

# آیا تاسود Centrelink د پریکړی یا تصمیم سره موافق نیاست؟

We speak your language ☎ 13 1202

*Do you disagree with a Centrelink decision?* – **Pushto**

که تاسو په هغه تصمیم چی Centrelink نیولی دی پوه نشوی، هرڅه ژرچی کیدای شي زمونږ سره تماس ونیسی مونږ به درته په دی هکله توضیح درکړو.

## Review Centrelink
## (د سنترلنک بیا کتنه اوغور)

که بیاهم تاسو د Centrelink پریکړی سره موافق ونه اوسی یا په هغه پوه نشوی کولای شی چی:

- د هغه چا سره چی دا پریکړه یی کړی خبری وکړی، او/ یا
- د بیا کتنی یا بیا غور په خاطرد Authorised Review Officer (واکداره اوصلاحیت لرونکي کارکوونکي) (ARO) دپاره غوښتنه وکړی.

ضروري نده چی تاسودهغه کارکوونکي سره چی دا پریکړه یی کړی وژغیږی، ولی زیاتو خلکو داخبری کول ګټوری موندلی دي. تاسو کولای شی هرډول غلط فهمی سمه یا نوي معلومات وړاندی کړی، پدی توګه کیدای شي چی نوی اصلاح شوی تصمیم په چټکی سره لاس ته راوړی. که لا بیاهم تاسو د تصمیم سره موافقه نه درلوده نود بیا کتنی یا غورد کارونکي (ARO) دپاره غوښتنه وکړی.

د ARO کارکوونکي د Centrelink لوړرتبه او تجربه لرونکي مامورین دي. که تاسو د ARO دبیا کتنی یا غور غوښتنه وکړه، چاچی په اول سرکی دا تصمیم یا پریکړه نویلی اویا یی کړی ده هغه ګوري، مګر داچی تاسو د دغه کار د نه کیدو درخواست کړی اوسي.

که ARO پریکړه یا تصمیم بدل کړي نو Centrelink به هغه پیسی چی ستاسو حق پری ګرځي درکړي. په هرحال د دی دپاره چی پوره پیسی بیرته واخلی لازمه ده چی دبیا کتنی یاغورغوښتنه د تصمیم یا پریکړی درسیدونه وروسته په 13 هفتو (یا 52 هفتو دځینو کورنی مالیی مساعدت Family Tax Benefit پریکړو) کی وکړی.

## د Social Security Appeals Tribunal (SSAT) (ټولنیزو تأميناتو د بیا کتنی یا غور دیوان)

که تاسود ARO د فیصلی سره خوشحاله اوموافق ونه اوسی بیا SSAT ته استیناف طلبه شی.دا د Centrelink نه یوخپلواک اومستقل دفتر دی، ولی یواځی هغه پریکړی او تصمیمونه ګوري چی ARO دهغه بیا کتنه کړي اوسي.

که SSAT د ARO پریکړه بدله کړي تاسوته به شایدهرهغه پیسی چی Centrelink ستاسی پوره وړی دی درکړي. په هرحال ددی پاره چی پوره پیسی بیرته واخلی لازمه ده چی دبیا کتنی یاغورغوښتنه د ARO تصمیم یا پریکړی درسیدونه وروسته په 13 هفتو کی وکړی.

## Administrative Appeals Tribunal (AAT)
## (د اداري استیناف دیوان)

که تاسود SSAT د فیصلی سره موافق ونه اوسی کولای شی AAT ته استیناف طلبه شی.د استیناف درخواست باید 28 ورځو په دننه کی د SSAT تصمیم یا پریکړی درسیدونه وروسته وشي.

## Court Appeals
## (محکمی استیناف یا مرافعه)

که تاسود AAT د فیصلی سره موافق ونه اوسی کولای شی محکمی ته استیناف طلبه شی. ولی محکمه یواځی دقانون دتطبیق بیا غور اوکتنه کوي. تاسو کولای شی لمړی باید دفدرال محکمی ته استیناف طلب او بیا د آسترالیا ستری محکمی یا عالي محکمی ته لاړشی. د استیناف درخواست باید 28 ورځو په دننه کی د AAT تصمیم یا پریکړی درسیدونه وروسته وشي.

د محکمو استیناف غوښتنه وړیا نده. که استیناف مو بریالی شو باید Centrelink دمحکمی لګښت ورکړي، او که استیناف مو بریالی نه وه تاسو به د Centrelink مصارف یا لګښت ورکړی.

## زیات معلومات

د Centrelink بیا کتنی او استیناف غوښتنی SSAT او AAT ته **پرته د پیسو یعنی وړیا** دي.

په ټولو مرحلو کی ستاسو نه قانونی یا **حقوقي وکالت** کیدای شي، ولی ستاسو په خپل لګښت. زیاتو خلکو په خپله دعوی پر مخ بیولی او کړی اوهغه یی وړی هم ده. حقوقي مرستی هم برابریدای شي.

Centrelink **دهغه چا سره** چی د سنترلنک په خلاف یی د استیناف یا بیا کتنی غوښتنه کړی وه اوسي د تبعیض او تعصب نه کار نه اخلي.

**ژباړونکي** یا ترجمانان ددی ټولو مرحلو لپاره په وړیا توګه برابریږي.

دزیاتو معلوماتو لاس ته راوړلو دپاره په **پښتو** ژبه کی **13 1202** ته زنګ ووهی یا دی ویب سایت ته لاړشی **www.centrelink.gov.au**.

دCentrelink سره په پښتو ژبه کی دخبروکولولپاره ***13 1202** نمبر تلیفون ته زنګ ووهی. همدارنګه ستاسو په ژبه کی معلومات **www.centrelink.gov.au** په ویب سایت کی میندلای شی.

* "13" نمبرو تلیفون ته د آسترالیا د هرځاې نه د عادي تلیفون خدمت له لارې چي دسیمه ایز تلیفون د بیې نه زیات ندې تلیفون کولاې شی (البته د تلیفون کوڵو بیه د تلیفون شبکې پورې چې دا خدمت برابروي مربوط دې). تلیفون کول "1800" نمبر تلیفون ته وړیا دې. د عامه تلیفون او موبایل تلیفونو نه تلیفون حولو بیه به یو څه لوړوی.

www.centrelink.gov.au

Australian Government

Centrelink
giving you options